# دکور مقررات

**د کډوالو، وروستني بیا ځای پرځای شووو، او نورو هغو کسانو لپاره چې له بهر څخه مهاجر شوي او د دوی خپلوانو لپاره د Oder-Spree په ولسوالۍ کې د کډ استوګنې لپاره، د § 11 پارا سره سم. 1 جزا 2 د براندنبرګ ایالت د مهاجرینو قانون.**

## 1 کډ استوګنځایونه او د دوی اوسیدونکي او لیدونک

1 کډ استوګنځایونه چې د براندنبرګ ایالت د مهاجرینو د Intakeقانون مطابق جوړ شوي، د اوډر – سپری Oder-Spree ولسوالۍ لخوا د مهاجرینو ، وروستي کډوالو او نورو خلکو لپاره چې له بهر څخه مهاجر شوي او د هغوی خپلوان د لنډمهاله هستوګنې لپاره ساتل کیږي.

2 اوسیدونکي هغه څوک دي چې د ګډې استوګنې د کورنیو موخو لپاره په نښه شوي دي.

3 لیدونکی هغه څوک دی چې غواړي کډ هستوګنې ته پرته د دې چې د اوسیدنې لپاره ګمارل شوی یا په نښه شوي وي داخل شي

## 2 د ګډو استوګنځایونو اداري

1 هغه کار کونکي چې د کور اداره کول ورته ته سپارل شوي (له دې وروسته: اداره) د ګډ استوګنځایونو په اداري پورې اړوند دندو مسؤلیت لري.

2 اداره د کورنۍ حقونه ادا کوي او همدا ډول د دغه کورنیو مقراراتو له مخې اړینې الرښووني وړاندې کوي. د کورنۍ حقونو ادا کول د ولسوالۍ څخه ازاد ګټه اخیستونکي ته چې د کډوالو لپاره د تولنیز قرارداد له مخې ټاکل شوي، ورستي ځای پرځای شوي، او نور اشخاصو ته څوک چې د بهر څخه را کډوال شوي او د هغوی خپلوانو او همدا ډول د استوګنځای په داخل کې امنیتي پرسونل ته لیږدول کیږي.

3 مراجعه کونکي او اوسیدونکي مکلف دي چې د دې کورنیو مقراراتو ته غاړه کیږدي و سمدالسه د اداري الرښوونې تعقیب کړي.

## 3 کور او د کور لوازم، د انرژۍ مصارف

1 اداره هر نوی اوسیدونکی ته په ځانګړې استوګنځای کې واحد ځای ورکوي، او کولی شي د کډ استوګنځای په داخل کې د موقیعتونو د بدلون حکم وکړي.

2 د ننوتلو او پیسو په ورکولو سره سم، هر بالغ اوسیدونکی یا هره کورنۍ د ودانۍ کیلي ترالسه کوي چې دOder- Spree ولسوالۍ ملکیت دی، کوم چې د وتلو وروسته باید بیرته ورکړل شي. که چیرته د ودانۍ کیلي ورکه شي نو اوسیدونکي کولی شي بله کیلي جوړه کړي.

3 په ودانۍ کې د واحید اوسیدونکي لپاره د اوسیدونې ځانګړي ځای یا خونه شتون نلري.

4 د کور ځایونه، فرنیچر، او نور وسایط او د کارولو وړ توکي باید په اختیاط سره استفاده شي. هغه فرنیچر او نور سامان چې د کورنیو لپاره چمتو شوي باید د کورنیو واحدونو څخه ونه ویستل شي. بهرني وسایل / فرنیچر او برقي الې د اداري تصدیق ته اړتیا لري. هر اوسیدونکي د هغه سامان حرابیدو لپاره چې په کورونو کې چمتو شوي مسول دی. ټول هغه ځایونه چې اوسیدونکي پکې میشت دي باید په منظم ډول سره یې هوا بدله شي ترڅو د نم مخنیوي وشي.

5 که چیرته یو اوسیدونکي د باندي یا بهر ته دتلو پرمهال خپل شخصي توکي پریږدي، نو دغه شیان به د اعظمي دري میاشتو لپاره خوندي ساتل کیږي. که د دې وروسته داسي معلومه شي دغه پاتي شوي توکي نور د ساتلو اړتیا ونه لري نو له مینځه به یوړل شي. که چیرته د خفظ الصحي په برخه کي د کالو بوټانو ساتل اړین ووسي نو له مینځه به یوړل شي.

6 بریښنا، اوبه او تودوخه باید په کمه اندازه وکارول شي.

## 4 کورنو واحیدونو ته داخلدل

1 اوسیدونکي باید تل اداري کارونکو ته مخکي له دې چي وخت وټاکي د هغوی د غوښتني سره سم کورونو ته د داخلدو اجازه ورکړي.

2 اداري کارکونکي د دې واک لري چي هروخت د استوګنځای دروازې خالصي کړي او داخل شي ترڅو:

- په چټکی سره یو فرد ته د استوګني ځای چمتو کړئ
- د خطر مخنیوی وکړي
- د غیري مسول کسانو شتون معلومول او د هغوي ویستل.

3 ه چیرته په استوګنځای کي د تاوتریخوالي خطر یا د نورو جرمي فعالیتونو نښي شتون ولري، نو اداري کارکونکي به په دغه صورت کي د پولیسو څخه د جرمونو د مخنیو لپاره غوښتنه وکړي.

## 5 عدم تشدد

1 د پرسونل په وړاندي غیری مناسب چلند، سپکاوی او د هیڅ پرسونل یا د اوسیدونکو په وړاندي بې اختر امي د زغم وړ نه ده.

2 د ګډ ژوند د ګټي لپاره، ټول اوسیدونکي اړتیا لري د یو بل متقابل ختر ام وکړي.

3 فزیکي یا رواني حالت څخه غلطه ګټه اخیستل د دې اوصول څخه خالف دي، او کیدای شي دا ستاسو د کور څخه د ویستلو المل شي.

## 6 اوسیدونکي د کور پاکولو او مدیرت کي مجبور دي چي مرسته وکړي

1 اړتیا په صورت کي باید ټول کار کونکي په اونی کي یوځل د استوګني خپل ځایونه پاک کړي، اوسیدونکو ته به د عامو ساحو لکه پخلنځي، دهلیزونو، زینو، تشنابونو او داسي نورو په پاکولو کي د الرښوني مرسته وشي.

2 د اوسیدونکو لخوا د کالو مینځلو خونه، د اوبو د نل نښلول، ډنډونه، د شاور ځایونه، د وچولو ساحه، او نور باید د کاروني ورسته پاک کړل شي. بندونه باید سم دالسه پاک کړل شي، که چیرته یي تاسو د پاکولو یا لري کولو وړتیا ونه لري نو اداري ته خبر ورکړئ ترڅو یي خپله لري کړي.

3 کثافات باید د کثافاتو په چمتو شوي بکس یا بلر کي ځای پرځای کړئ، دغه کثافات یا فاضله مواد په تشنابونو، ډنډونو یا د فاضله مواد په نالیو کي مه اچوئ. د کثافتو د بکس نږدي شاوخوا باید پاکه وساتل شي.

4 غلی، د ښیو پاکونه، د منډې بوټونه، جامي، او داسي نور باید د انګړ په ساحو کي ټک وهئ او پاک یي کړئ.

5 پريمينځل شوي کالي يوازي په ټاکل شوی ځايونو کې وچ کړئ. مينځل شوی کالی د کورنو په کړکيو کې دوچيدو لپار مه زړوئ، هغه اله چې کالي پري و چولو لپاره زړوئ بايد کړکيو ته مخامخ چمتو نه شي.

6 د موټرو تم ځای او ترافيکي ساخي بايد يوازی د اور وژني د خونديتوب موخو لپاره وکارول شي، او د اداري په غوښتنه بايد پاک ساتل کيږي.

7 ټول اوسيدونکي مکلف دي چې د اداري الرښووني تعقيب کړي ترڅو د کور منظم مديريت ډاډمن شي.

8 . په ملکيت کې د اور خونديتوب کيښودل يا ځای پرځای کول بايد د قانون له مخې تعقيب شي.

## 7 اوسيدونکی مکلف دي چې د پيښنو په اړه راپور ورکړی

1 د الندي پيښنو په اړه اداری سم دالسه بايد په جريان کې واچول شي:

- اور يا د اور خطر
- ساري ناروغی او وبا
- آفتونه
- نم

ه په ګډ استوګنځای کې اکټ يا اعمل ترسره کولوته، په ځانګړی توګه فزيکي زيان، جنسي سپکاوی، جنسي تيری، غال، د ودانی تخريب، او د مخدره توکو کارولو ته اجازه نه ورکول کيږي.
د ودانی په داخل کې، په ځانګړي توګه تودوخي / حفظ الصحي / بريښنا تاسيساتو او فرنيچروته.

2 د الندی مواردو اړوند هم بايد ادره سم دالسه په جريان کې واچول شي:

د مهاجرت په قانون کې هر ډول بدلون
زيږون، واده، مړينه، د نوم بدلون، او نور

## 8 محدودیتونه

1 الندي موارید محدود شوي دي:

- د ولسو ساتل او کارول، شمول د ارایشي او لوبو وسلې
- د استوګنځای په داخل کې هر هغه چلند چې خوندیتوب نظم یا امنیت ته زیان اړوي،
- د هلیزونو او د تیریدو په الرو کې،موټر درول او د توکو زخیره کول ـ لکه بایسکلونه، د ماشومانو انقالونکي کوچنی
- موټړي، بکسونه، فرنیچرونه، او داسي نور
- د دهلیزونو د زینو په مینځ او خونو کې، د موپیډونو او موټرسایکلونو ذخیره یا درول،
- د شپې لخوا د 22:00 – 6:00 ارام ساعتونو کې ګډوډي او د ورځې په اوږدو کې هر ډول فعالیتونه د (په 6 بجو کې پیل کیږي
- د اوسیدو یا د ویده کیدو په ساحو، تشنابونو، اشپزخانو، او عامه ځایونو کې د سرګرټ څکول،
- د ازادو لمبو سره کار کول او د اور اخیتسونکو یا زهجنو شیانو او مایعاتو ذخیره کول،
- ناقانونه ودانی یا په تخنیکي مواردو کې بدلونونه، په ځانګړي توګه د حفظ الصحه او تودوخي الو نسبول، او د سپوږمکۍ د نیولو لپاره انتن نسبول،
- د شخصي بریښنایي وسایلو استفاده کول چې د اوسني خوندیتوب معیارونه نه پوره کوي،
- په ډېره کچه د بریښنا، اوبو او دتودوخي کارول
- د هر ډول توکو یا خدماتو وړاندې کول، او دهر ډول سوداګریزو عالنونه،
- د سوداګرئ رامینځ ته کول او مدیریت کول، تجارتي اعالنونه یا نورو کاروبار
- د اوسیدو یا خوب خوني په ساحه کې د خوړو چمتو کول
- د الکولو کاروبار او په ډېره کچه د هغې استعمال، او د غیري قانوني شیانو ساتل او ستعمال
- د خواناتو ساتل
- هر ډول تبلیغ یا ګوندي فعالیتونه،
- د محافظتي شیشي او د اور وژني د خطر ټلی څخه بي اړتیا ګټه اخیستل او د هغې ټنې ته فشار ورکول
- د ځارني پرته د عملیاتي بریښنایي وسایل، په ځانګړی توګه د منځلو ماشینونه، بخاری او نورو کارول.

2 اداره کولی شي چې په کور کې دال ښه امنیت، نظم یا ارامی ساتلو لپاره هر وخت نور بندیزونه هم وضع کړي.

## 9 مراجعین / میلمانه

1 یو لیدوکونکی چې اوسیدونکی یې په شخصي توګه وپیژني، یا هغه څوک چې د اوسیدونکي سره پیژندګلوی ولري، اجازه لري چې د اداري سره ځان د راجستر کولو څخه وروسته د 8:00 څخه تر 22:00 پورې ګډ استوګنځایونو ته داخل شي. لیدنکی مکلف دی چې د ادرې د غوښتني سره سم خپله پیژاند پانه ښکاره کړي. که چیرې لیدونکي خپله بیژندنه ثابت نه کړه، نو اداره کولی شي چې له دوی څخه غوښتنه وکړي تر څو ژر ترژره د استوګنځای څخه بهر شي.

2 هغه لیدونکي چې د اوسیدونکي سره تړاو نلري، د واده په شمول، یا هر هغه څوک چې هیڅ اوسیدونکی ونه بیژني او د اداري لخوا ورته اجازه ورکړل شوي وي کولی شي چې استوګنځای ته دخل شي. د دې اختیار لپاره هیڅ ادعا شتون نلري. دغه اجازه د همدغې ورځې په 22:00 بجو پای ته رسیږي. دا ډول لیدونکي باید د اداري د غوښتني سره سم خپل پیژند پاڼي ښکاره کړي.
3 که چیرته په استوګنځای کې اضافی ځای شتون ولری نو د اوسیدونکي میرمني او ماشومان کولی شي چې په استوګنځای کې د 7 ورځو لپاره د قضیې په اساس د ادرې د اجازې په لرلو سره پاتي شي. په دې حالت کې لیدونکی باید د استفادې پیس ورکړي.
4 په هر وخت کې اداره د لیدني لنډمهاله پاتی کیدو اجازه لغوه کولی شي.

## 10 لنډمهاله نشتوالی

1 هغه اوسیدونکي څوک چې غواړي په استوګنځای کې د 24 ساعتو څخه زیات شتون ونه لري نو باید چې د ورځې مهال د 12:00 څخه مخکې اداري ته خبر ورکړي، او د هغه ځای ادرس چې دا پکې شتون لري چمتو کړي.
2 یو اوسیدونکی کولی شي چې د ګډاستوګنځای څخه د باندې د یوې اونۍ لپاره الړ شي، په استثنایی حاالتو کې اداره کولی شي چې دغه نه شتون د دوه اونیو لپاره تایید کړي.
3 اداره سم دالسه باید د غیری حاضر اوسیدونکي د بیرته راتلو څخه خبر شي.

## 11 د باندې تلل

کله چې د استوګنځای څخه وځئ نو اوسیدونکي باید د استوګني ټول ځایونه پاک کړي، او هغه ټول لوازم لکه فرنیچر، وسایل، او کیلي چې په کوم حاالت کې تاسو ته درکړل شوی وو بیرته په هم هغه حاالت کې د استوګنځای مسول ته بیرته ورکړئ، او وروسته ګډ استوګنځای پریږدئ.

## 12 د کور د مقرراتو څخه سرغړونه

د Oder-Spree د ولسوالی د مقرراتو § 11 سره سم د ګډ استوګنځای استعمالو، د استوګني اتحادیي او دکډوالو لپاره دکورونو لنډمهاله انتقالول، ورستي ځای په ځای شي او نور هغه کسان چې د بهر نه کډوال شوي او د هغوی خپلوالوان د کور د مقرراتو څخه د سرغړوني په صورت کې د اداري لخوا د پینځه ایرو څخه نیولي تر زرو ایرو پوری جرمانه کیدای شي، (د هستوګني قوانین) له 06/12/2016 څخه.

## 13 د عمل پایلي

1 د دې عمل پایلي په دې 2017/04/01 نیټه مینځ ته راځي.
2 په ورته وخت کې، د کور پخواني مقررات نور په عمل کې ندي.

تخلص: ____________________

لومړی نوم: ____________________

د پیداینت نوم ـ که ممکن وي: ____________________

د زیږدو نیټه: ____________________

اعتراف:

د Oder-Spree په ولسوالی کې د کډوالو لپاره، ورستني ځای په ځای شوي، او نور هغه اشخاص چې د بهر نه کډوال شوي او د هغوی خپلوان په Intake کې د 01 / 04 / 2017 نیټې څخه د Brandenburg § په ایالت کې د کډوالو 11 پارا. 1 جریده 2 قانون له مخې زه په دې توګه د ګډاستوګنځای لپاره د کور مقرراتو باندې خپل اعتراف تاییدوم .

زه دلته په ټولو ټاکل شوو مقرراتو باندې پوهیږم

................................................................................................

(ځای , نیټه / لاسلیک)